هفته نامه

دجهاد هنداره

مرآت الجهاد

لومړي کال (۱۳)ګڼه ، ۱۳٦۹هـ ش دقوس (۲۱)

مستوفيت ولايت قندهار فتح گرديد

مجاهدين طى يك حملهٔ پلان شده مستوفيت ولايت قندهار را که در ناحيه ششم شهر قندهار موقعيت دارد فتح نمودند.

اين مطلب را يکى از قوماندانان جهادى قندهار ضمن مصاحبه ابراز نموده افزوده است که مجاهدين بتاريخ ۳۱ قوس تحت فرماندهى گل اقا «شيرزوى» بر مستوفيت رژيم که در جنوب شهر قند هار

درصفحه « ۸ »

دکابل دمزدوررژيم دلوړرتبه مامورينو کورنۍ روس ته استول شويدي

(۸) مخ کې

PROPERTY OF ACKU

الحاج مولوي جلال الدين حقاني دقوماندانانو شورا په مطبوعاتي کنفرانس کې:

له نجيب سره مجاهد افغان په هيڅ صورت نشي ګتلي اوهرڅوک چي ورسره ګوري زمورد جهاد اومسلمان ملت دښمن دي

(۳)مخ کې

په روسيه کې له يوه فارمه هره ورځ پنځه تنه غوښه غلاکيدله

دروسيې دخبررسولو اژانس (تاس) ويلي دي چي دکې جي بي استخباراتي دستګاه پدې وروستيو وختو کې داسې مسٔلې برښدې کړې دي چې په رسمې توګه به خوراکي مواد

(۸) مخ کې

نجيب به نفع ظاهرشاه ازحکومت استعفا ميدهد

نجيب رئيس حکومت کابل حاضر گرديده است تا به نفع محمد ظاهرشاه مخلوع افغانستان ازحکومت کناررود اين مطلب رامطبوعات به نقل ازروزنامه (نيشن) پاکستان گزارش نموده است درگزارش آمده است : نجيب اين پيشنهاد راهنگام سفرش به

درصفحه « ۸ »

مورپه افغانستان کې څه وليدل؟

(۵)مخ کې

دخليج په رابطه حيرانوونکي بدلونونه

ديکشنبې ورځې د نواى وقت ورځپاڼې په سرمقاله کې د خليج د کړکيچ په هکله ليکل شويدي چې: دخليج په وضعه کې له تيرى يوى ورځې راهيسې حيرانوونکى بدلونونه راغلى دى پرون صدام حسين اعلان وکړ چې د رملـه د نفتـو د تصفيـه خانو پـه بدلـه کې دکوېټ ازادولو تـه تيـار دى اوس عراق دټولو بهرنيو د ازادولو اعلان هم کړى له بلى خوا امريکا هم دخليج ربړ ، دعراق پـه غوښتنه د منځنى ختيځ «فلسطين» له مسٔلى سره اړونده منلى ده دملګرو

(۷)مخ کې

روسانو نورو هيوادوته دعسکرو دليږلو جرئت له لاسه ورکړى دى

دروسيې دمشرګورباچوف يوه نږدى سلاکار شاه نظر اوف دفارس خليج ته دروسيې قواو دليږلو په اړوند په مسکو کې دتيرى شنبې په ورځ څرګندونى وکړى او ويې ويل : پداسې حال کې چې له افغانستان نه دروسى عسکرو دوتلو چې د(۱۹۸۹) کال دفبرورى په مياشت کې ترسره شوه ، دوه کاله نه تيريږى روسى قواو ته به په خليج کې دمداخلې اجازه نـه دروسيـې پـارلمـان اونـه دروسيـې خلـك ورکـړى شاه نظراوف وايې : په شوروى کې عينى ذهنيت داسې دى لکه چې په امريکا کې دويتنام له جګړى وروسته راغلى ؤ ، که چيرى دخليج بحران په هغه وخت کې پيښ شوى واى نو په

(۷)مخ کې

دبنګله ديش دجمهوررئيس له استعفا وروسته شهاب الدين احمد دسرپرست په توګه وټاکل شو

دبنګله ديش جمهوررئيس ارشاد تيره اونۍ دپراخو جوړو شوو مظاهرو له امله چې دده دحکومت پر ضد پيل شوى ؤ استعفا ته مجبور شو اودهغه هيواد قاضى القضات شهاب الدين احمد دسر پرست جمهوررئيس په توګه وټاکل شو .

سر پرست جمهوررئيس ژمنه وکړه چې تردريو مياشتو پورى بـه انتخابـات تـرسره شـي اوڅرګنده يې کړه چې جنرال ارشاد بايد داته کلني دورى دکړو وړو ځواب ووايى .

هغه زياته کړه که چيرى ولس پـه دوامداره تـوګـه دارشـاد دنيولو غوښتنه وکړى نوبايد دهغه پر ضد ځينى عمليات ترسره شي .

قحطى درروسيه وپرابلم کمك با آخرين رژيم دست نشانده روسيه درکابل

بهر اندازه ايکه فقدان مواد غذايى وسوخت درروسيه جدى ترميگردد کمک انکشورنا رژيم کابل که کاملاً بان متکى است

درصفحه « ۳ »

په افغانستان کې دملګرو ملتو دمرستو ناظم صدرالدين اغاخان استعفا ورکړه

دنړيوالو خبرى اژانسونو په حواله ويل شويدى چې په افغانستان کې دملګرو ملتو دمرستو ناظم شهزاده صدرالدين اغا خان لـه خپلى وظيفى نه استعفا ورکړه .

نومورى ناڅاپه دمالى مرستو دلاسته نه راوړلو له امله استعفا ورکړه .

سرمقاله

ستري انتظار اوبي منزله منده

دقوس په يوولسمه نيټه دافغانستان داسلامى دولت له خوا ديوى غونډى په ترڅ کې څرګنده شوه چې دهيواد په دننه کې دسيمه ايزو اوولسواليو شوراګانواودلويې جرګې دانتخاباتو دکميسيون لپاره دنظار هيئتونو په ليږلو سره دانتخاباتو دجوړيدوکارپيل شو.

(۸) مخ کې

له نيول شوي کشمير نه دسختو نښتو راپور

(۲)مخ کې

افغان ولس دادوولس کلن دردونه اوکړاوونه دکوم ګوډاګي اوسيکولر حکومت په خاطر ندي زغملي چي له ظاهرشاه يا نورو بې دينه اوسيکولر عناصرو سره ګډ حکومت ومني

(حقاني)

د جهاد هنداره

مؤسس : الحاج مولانا جلال الدين حقاني

د تأسيس کال : (۱۳۶۹) هجري شمسي

تلاش جدید رژیم کابل بخاطر حفظ قدرت

مسیح الله

نیروها ی جهادی نباید درصحنه سیاست میدان را برای تبلیغات حکومت کابل خالی گذارند چنانچه قبلا "نیز بارها تجربه شده است حکومت کابل با براه اندازي تبلیغات کرکننده پیرامون طرح هاي میان تهی خود نسبتا" توانسته است توجه محافل علاقمندبه مسایل افغانستان رابطرف خودبرگرداند .

درین روزها مساله افغانستان بااقدامات وپیشنهادات مختلفی که ازسوی نیروهای جهادی ، شاه مخلوع ورئیس حکومت دست نشانده درکابل به پیش کشیده شده بازهم ازموضوعات داغ روزووسایل مفاهمه کتلوی جهان گردید.

درین طرحها تلاش شاه مخلوع ورئیس حکومت کابل بخاطر محروم ساختن نیروهای جهادی دراداره اینده کشورمتبارزاست .

نیروهای جهادی نیز به سهم خویش با سرعت طرح انتخابات رادرمناطق ازاد اعلام نموده ویکصدوسی‌وهشت تن رابحیث کنترولران پروسه انتخابات به داخل کشوراعزام نمودند ومقررداشتند تا ازهرولسوالی ده تن اشخاص با دیانت ومتقی وخدمت گزار مردم بحیث نماینده برگزیده شده ویکتن ازانها بحیث نماینده درلویه جرگه ازمردم خویش وکالت وکفالت خواهد نمود .

توام باین اقدام نجیب رئیس حکومت کابل ضمن مصاحبه با یك روزنامه انگلیسی گفته حاضر است تابه کمیسیون ویا شورای مستقل که دردوره انتقال قدرت ازکمونیست ها به یك حکومت منتخب مردم ایجاد میگردد، صلاحیت های بیشتر تفویض نماید .

نجیب درطرح خودکه قبلاً ارائه نموده بود حاضر گردیده بود تاقسمت بسیارنا چیز صلاحیت خود را به کمیسیونی که مطابق طرح موصوف برای انتقال قدرت کشورایجاد خواهد شد بدهد که این طرح ازطرف مجاهدین قویاً رد گردیده بود اما اینبار نجیب حاضر گردیده تاگویا ازحق (؟) خویش بخش دیگری رانیز به کمیسیون انتقال دهد .

وی نگفته است که ازکدام نوع صلاحیت خودرا محروم خواهد ساخت اما ناظرین با تحلیل موقعیت نجیب ودشواریها ی موجود درارتباط به ادامه قدرتش گفته اند که موصوف حاضر خواهد بود تاازصلاحیت کنترول برقوای نظامی شامل برقوای عسکری ، پولیس وخفیه پولیس (خاد) صرف نظرنماید.

ازجانبی نیزشاه مخلوع درتپ تلاش است تا به سود خود راه حلی راارائه دهد موصوف نیزپیشنهاد نموده تا یك حکومت ازجناح سوم بمیدان امده رهبری دوره عبوری راتامرحله انتخابات وبرگزیدن یك حکومت انتخابی برعهده گیرد که رهبری انرا خودش به عهده داشته باشد .

درطرحهای پیشنهادی ظاهرشاه ورئیس حکومت کابل اهداف مشخص انهاگنجانیده است وعاقبت الامر طرحهای انها رامیتوان دریك ظرف قراردادتماس های مستدام میان نماینده گان انها تقویت کننده این واقعیت است که نجیب میخواهد بخاطر نجات خویش ازعصیان واحتساب ملت قدرت رابه ظاهرشاه انتقال داده خودرادرعقب تنه پیروفرتوت شاه مخلوع که هیچگاه دربرابرطوفان خشم مردم ستمدیده افغانستان تاب مقاومت رانخواهد داشت پنهان نماید .

گرچه ظاهراً طرحهای اندو ازهم اندکی اختلاف دارد ولی درخفا درتفاهم با هم قرارداشته برای فریب اذهان عامه با ارائه طرحها وپیشنهاد به مانورسیاسی دست میزنند تامردم ما راخسته ساخته به راه حل دلخواه شان دست یابند .

نزدیکی مواقف نجیب وظاهرشاه بالاخره به اتحاد ستراتیژیك انها دریك حکومت تخیلی شان منجر خواهدشد واین اتحاد انها ازترس مشترك شوروی وامریکا ریشه میگیرد که ازمیان امدن یك حکومت

درصفحه « ۶ »

له نیول شوي کشمیر نه دسختو

نښتو راپور

سرینگر :په نیول شوی کشمیر کی د هندوانو د ستم او فشارپه مقابل کی په ټوله وادی کی له تیرو دوو ورځو راپه دی خوا بشپړ اعتصاب روان دی د ژوند کار او بار په تپه ولاړ او فلج دی هندی پوځیان د ازادی غوښتونکو د موندلو لپاره کور په کور لټون پیل کړی او (۲٤) تنه مجاهدین یی شهیدان کړی په سرینگرکی امنیتی پهری سختی شوی او

پوښتنی پلټنی جریان لری دوکانونه ،ښوونځی او ان حکومتی دفترونه تړل شویدی دسرینگر په شاوخوا کی د ازادی د جبهی مجاهدینو او هندی پوځونو تر منځ د شخړو خبرونه هم راغلی دي دهندی پوځونو په موټرو لاسی بمونه ورغوځول شوی چی په هغه کی یو شمیر هندوان ټپیان شوی او بیا روغتونو نو ته نقل شویدی په سرینگر کی اوس بشپړ بندیز لگیدلی او دتیری جمعی په ورځ د جمعی له لمانځه نه وروسته په سرینگر کی په زرگونو تنو مسلمانانو له هندی واکمنو نه د ازادی ناری وهلی په نو رو کلیو کی هم په جوماتونو کی همدغسی مظاهری لیدل شویدی ،

دکشمیری مجاهدینو د خبری اژانس دخبر له مخی مجاهدینو د هندی پوځونو په یوه هډه دیرغل په نتیجه کی «۱۱» تنه پوځیان وژلی او دغه هډه یی د راکټونو په واسطه الوزولی ده همدارنگه مجاهدینو څو ځایه نوری حملی هم کړی چی یوه ډله هندی پوځیان یی وژلی او ټپیان کړی دي ددغو بریدونو په ترح کی دوه تنه مجاهدین محمد اکبر او شریف الدین بټ هم دشهادت مقام ته رسیدلی دي په نیول شوی کشمیر کی د اسلام او پاکستان له مینه والو سره دظلم او ستم انداز ه له دی مثال نه ښه جوته ده چی دنیول شوی کشمیر په یوه ښارگوټی اسلام اباد کی په یوه دیوال «اسلام زنده باد » «پاکستان زنده باد » شعار لیکل شوی ؤ کله چی هندی امنیتی پوځونه دغه شعارونه وینی دهغه محلی ځوانان را ټولوی او په زوریی دی ته مجبوروی چی په خپلو ژبو دغه شعارونه رنگ کړی همدارنگه ډریورانو ته حکم وشو چی د اسلام اباد پر ځای په خپلو موټرونو د «اننت ناگ » لوحی وځړوی خو ډریورانو ددغه حکم له منلو نه انکار وکړ هندی پوځیانو ددی انکار په بدل کی یو ډریو ر په گولۍ وویشت او وبی واژه .

له سرحد نه هغی غاړی نه دیوه بل را پور له مخی د تیری شنبی په ورځ هم دهندی پوځونو او مجاهدینو تر منځ سختی نښتی روانی وی چی هندی پوځونو ته درانه زیانونه وراوښتی ، دخبرله مخی دحرکت المجاهدین لخوا په ځینو پوځی هډو درانه گوزارونه شویدی چی په نتیجه کی یو شمیر هندیان وژل شوی اوهډو ته ډیر تاوان رسیدلی اوپه پوځی ماڼیو کی اورلگیدلی - ددغو حملو په ځواب کی هندی پوځونو له توپونو څخه کار اخستی اودپاکستان په ځینو علاقو یی گولۍ راښکلی.جگړه دشپی تر(۱۲) بجو پوری روانه وه اوبیا مجاهدین خپلو هډو ته سلامت راستانه شویدی.

همدارنگه کشمیری مجاهدینو یو دغلام محمد بټ په نامه یوجاسوس چی دډیرو مجاهدینو جاسوسی یی کړی اودکشمیر دابرو منو تورسریو په بی پته کولو کی یی هلی ځلی کولی براالاعدام کړی دی.

دمزدورنجیب دوروستیو اوتوبوتو یه هکله !

س. م. د هاشمي

پدی وروستیو کی د روسانو د مزدور رژیم مشر نجیب دژنیو له ناکام سفر څخه تړراستنیدو وروسته په ډیری وارخطا یی سره یو لړ پوچی او بی معنی څرگندونی کړی چی د بیلابیلو نشراتی وسایلو له لاری خپرشوی دی .

مزدور نجیب ددغو څرگندونو په ترځ کی د غلامانو اقتدار څوکۍ د پریښودلو او له افغانستان څخه د وتلو لپاره دری وړاندیز ونه کړی دی:

۱ ـ د عبوری مرحلی لپاره باید د قدرت واگی ظاهر شاه ته وسپارل شی.

۲ ـ د خلق ـپرچم ملحد او مزدور ه ډله باید په افغانستان کی د یورسمی گوند په توگه ومنل شی .

۳ ـ د خلق او پر چم ډلی د جنایتکار غړوسره به څوك محاسبه نه کوی .

معلومه خبره ده چی نجیب د دغه ډول عوام فریبانه پیشنهادونو له لاری د نړیوال ذهنیت د بدلولو او خپلی خواته د را جلبولو هڅه کوی خو هیڅ سالم عقل د هغه په دغه پیشنهادونو نه تیروځی.

که د مزدور نجیب دغو پورتنیو د خندا وړ غوښتنو او وړاندیز ونو ته وگورو نو د پښتو ژبی ددی متل ډیر ښه مصداق گرځیدلی شی چی: "څوك یي په کلی کی نه پریږدی وایی آس می د ملك کره وتړی"

لومړی خو داچی نجیب او رژیم یی چی هیڅ ملی او نړیوال قانونی حیثیت نلری په کوم جرأت د افغانستان د مؤمنو خلکو د راتلونکی برخلیك (سرنوشت) په اړه دا خبره کوی چي د عبوری مرحلی د مشرۍ لپاره دی هغه یادغه شخص مشروټاکل شی دا خو د افغانستان دمجاهداو قهرمان ملت حق دی چې د حکومت اومشرۍ لپاره څوك وټاکي.

د مزدور نجیب دا غوښتنه او وړاندیز چی د"خلق- پرچم" ناولی باند بایدد افغانستان په راتلونکی حکومت کی دیو رسمی گوند په توگه ومنل شی او هغه ته دی د مبارزی او فعالیت حق تضمین شی ،هم د حیرانتیا وړبریښی ځکه هغه ناولی باند چی د مؤمنو افغانانو په وړاندی یي له هیڅ ډول جنایت او خیانت څخه ډډه نه ده کړی ،د اوسنیو ټولوبدبختیو د افغانستان دړنگولو د ملیونونو افغانانو د شهید انولواومعیوبولو هجرت ته د اړیستلو اصلی او اساسی عامل دی دمؤمنوافغانانو د وژلو او ځپلو لپاره یی پد لکونو په وسلواووسیلو سمبال روسی پوځونه افغانستان ته راوستی او د غلامانه اقتدارپه دغه څه د پاسه دولس کلونو کی یی داسی خیانتونه او جنایات سرته رسولی دي چی د قلم عفتیی په یادونه شرمیږی.آیاکیدي شی د افغانستان مجاهد ملت ددغه ناولی باند په دی دومره جنایاتو سترگی پټی کړی هغه دی، په ملت کی د یورسمی گوندپه، توگه ومنی او هغه ته دي بیا هم په ملت کی د کمونیزم او الحاد د پوځۍ مفکوری دخپرولو لپاره د مبارزی او فعالیت اجازه ورکړی؟

دمزدور نجیب داپیشنهاد چی د خلق او پرچم دملحد او جنایتکار باند له غړیو سره دی د ترسره کړیو جنایاتو، او خیانتونو په اړه محاسبه نه کیږی هم د خندا وړ بریښی ځکه چی ددغه ناولی باندغړی چی د ثور د خونړی کودتا څخه دمخه یي هم په افغانستان کی د کمونیزم ،الحاداو فساد د، خپراوی لپاره مبارزه کوله او د روسانو په مرسته او ملاتړ د غلامانه اقتدارد څوکۍ د ترلاسه کولو له لومړی ورځی څخه را وروسته تر ننه پوری یی دخپلو بادارانو په دستور او اشاره د مؤمنو افغانانو په وړاندی له هیڅ ډول جنایت څخه ډډه نه ده کړی له پورته څخه تر ښکته پوری ټول په ترسره کړیو جنایاتو کی شریك او لاسونه یی د مؤمنو افغانانو په وینو سره دی کله

(۷)مخ کی

له نجیب سره مجاهد افغان په هیڅ صورت ...

دیکشنبی په ورځ دقوس دمیاشتی په اتلسمه دقوماندانانو دشورا لخوا ددغه شوری په نمایندگی کی یو مطبوعاتی کنفرانس جوړشوی ؤ ، کنفرانس ته مولوی جلال الدین حقانی ، مولوی ارسلان رحمانی اوقوماندان انورخان وینا وکړه دکنفرانس په پیل کی مولوی ارسلان رحمانی ددغه خبری کنفرانس دجوړیدو په باب داسی وویل :

بسم الله الرحمن الرحیم

محترمو ورونو ! تاسو نن دلته ددی لپاره راغونډتل شوی یاست چی له یوی خوا دکابل دمزدوررژیم مشر نجیب دوروستیو ادعاګانو په باب چی وایی له ځینو جهادی مشرانو اوقوماندانانوسره یی کتلی اوموافقی ته سره رسیدلی یو ، دقوماندانانو دشورا ددریځ په باب وضاحت کوو ورونو ! دغه شوری اصلاً ددریو بنیادی مشکلاتو په اثر جوړه شوه دلومړی حل لپاره دسرکال دوبی دمولاناجلا ل الدین حقانی صاحب په مرکزژوره کی دشورا لومړی مقدماتی جلسه وشوه

هلته په دی غوروشو چی دټول هیواد دقوماندانانوپه سطحه یوه شوری جوړه شی داسی یوه شوری چی دسنی ، شیعه ، پښتون ، تاجک ، هزاره اونورتبعیضو نه پکی نه وی دټو ل هیواد ټولی طبقی اوقوماندانان بیله تبعیضه برخه پکی واخلی همداسی وشول په مقدماتی شوری کی فیصله وشوه چی دافغانستان دری سوه قوماندانان باید په دی شوری کی برخه واخلی ، همغه ؤ چی دری سوه تنو قوماندانانو دهیواد له مختلفوبرخو نه په دی شوری کی برخه واخیسته اوبیا په دی دری لویو ستونزوخبری وشوی

لومړی : په ټول هیواد کی په یوه قومانده منظم سرتاسری عملیات اوجنگی عملیات منظم کول.

دوهم : دمجاهدینو په منځ کی دجګړو اواختلافاتو مخنیوی اودداخلی جګړو ختمول .

دریم : په هیواد کی دلارودامنیت ساتل .

موږته دشوری له خوا دلارو دامنیت دساتنی وظیفه راسپارل شوی وه چی تردیره حده په خپله وظیفه کی دخدای (ج) په فضل کامیاب وو موږدهیواد داخل ته ، مرکزی ولایاتوته ، دقندهار له لاری داخل ته اوسمت شمال ته هیئتونه واستول ، چیرته چی چا لاری بندی کړی وی هغه بیرته خلاصی شوی چیرته چی چا دعبوری حکومت یا موسسو اویا هم دکوم تنظیم موټراومالونه ګرځولی وو هغه بیرته مسترد شول ، لاری خلاصی شوی امنیت یی تامین شو اوپه ډیرو ځایونو کی خپلمنځی جګړی ختمی شوی ، دقوماندانانو دشوری په ابتکار په غزنی اواروزګان کی دسنی اوشیعه ورونو ترمنځ سختی جګړی چی ډیری خطرناکی وی ختمی شوی اوانشاالله بیا به هیڅ کله نه پیښیږی .

دنظامی عملیاتو په برخه کی به چی تراوسه کوم فعالیتونه شوی دی اودشوری له خوا کوم پرمختګونه شویدی دهغو په باب به مولوی صاحب «حقانی » خپل تفصیل درته واوروی .

وروسته بیا دخبرو لپاره مولانا جلال الدین «حقانی » ځان چمتو کړ هغه له حمد او صلوة وروسته داسی وویل :

ورونو! دشوری په وروستی مجلس کی دری مهمی فیصلی شوی چی مختصراً مولوی صاحب ارسلان «رحمانی »هم وویل هغه پریکړی داوی :

لومړی : یوه منظمه جنگی ستراتیژی غوره کول ، په ټول هیواد کی په یوه قومانده اویوه وخت سرتاسری منظم عملیات چی په دریو ډوله هدفونو باید داسی اجرا شی چی په ټول هیواد کی ددښمن ټول ضعیف مرکزونه باید دتعرضی عملیاتوپه نتیجه کی فتحه شی هوایی میدانونه اولویی مواصلاتی لاری تروقفه یی ضربو لاندی راشی چی لاری باید قطع شی اوهوایی میدانونه ددښمن دالوتکو له پروازنه بیکاره شی ، بل داچی لوی مرکزونه اولویی قواوی باید دوامداری محاصری اوعملیاتو په نتیجه کی ضعیف شی ترڅو بالاخره فتحه شی .

دوهم : دمجاهدینو ترمنځ داخلی جنګونه ختم شی .

دریم : دازادو سیمو جهادی لارو امنیت باید ټینګ شی .

زه اوس دقوماندانانو دشوری ددغی فیصلی نه تراوسه پوری چی دعقرب له پنځلسم نه دقوس تر (۱۸) پوری کیږی دهغو عملیاتو تفصیل وړاندی کوم چی دشوری له پریکړی نه وروسته ترسره شویدی :

دتاشقرغان تنګی مهمه لاره بنده ده اودښمن نشی کولی له هغی لاری څه اکمالات وکړی ،په شمالی سالنګ ، بغلان ، پلخمری اوجنوبی سالنګ کی سختی جګړی پیښنی شوی ،همدا اوس هم هلته جګړی روانی دی دسالنګ لاره ددښمن په مخ تړل شویده اودایوه میاشت ددښمن یو موټر په دی لاره کابل ته نه دی داخل شوی

داخلور ورځی وړاندی مجاهدینو په بغلان کی ددښمن یوه پوځی قافله ځپلی «۱۵» دوی لویی پوځی ډیپو ګانی له منځه تللی دی . دغه هوایی ډګر همدا اوس هم فلج دی اوددښمن الوتکی استفاده نشی ورڅخه کولی .

دچکری ، محمد آغی دکابل جنوبی خواوته سختی جګړی پیښنی شوی ، په دی لنډو ورځو کی شپږ پوستی په للندر او (۱۲) پوستی دبابوس په کی «۱۷۰» تنه عسکر مجاهدینو ژوندی نیولی هلته اوس هم سختی جګړی دوام لری اودښمن ښه وارخطا دی دلغمان والی جنرال مهتاب الدین پر مهترلام دیوه دراندہ عملیات په ترځ کی ټپی شو کابل ته یووړل شو خو هلته مړ شوی دی دجلال اباد په سرخرود کی دولتی مرکزونه دمجاهدینو ترسخت فشار لاندی دی ، دمزدوررژیم قواو له سروبی نه ددغی محاصری دکړی ماتولو لپاره دمرستی په غرض دی لوری ته یوڅه قوه راواستوله

> **مولانا ارسلان رحماني :**
> موږدهیواد داخل ته ، مرکزي ولایاتوته ، دقندهار له لاری داخل ته اوسمت شمال ته هیئتونه واستول ، چیرته چی چا لاری بندی کړی وی هغه بیرته خلاصی شوی چیرته چی چا دعبوري حکومت یا موسسو اویا هم دکوم تنظیم موټراومالونه ګرځولي وو هغه بیرته مسترد شول ، لاری خلاصی شوی امنیت یی تامین شو اوپه ډیرو ځایونو کی خپلمنځي جګړی ختمی شوی

عرادی ټانکونه اوموټرمجاهدینو ژوندی غنیمت کړی او په لسګونو نوریی سوځولی دی ، هلته دفیصلی له ورځی نه تراوسه پوری جنګ جریان لری .

په جنوبی سالنګ کی له پنځوسونه تر(۷۰) ټانکونو پوری له منځه تللی ، داډیره موده دبګرام هوایی میدان ددښمن دطیارو په مخ تړلی دی هلته ، اته الوتکی ویجاړی شوی همدارنګه ددغی هوایی اډی دښته کی مجاهدینو نیولی سربیره پردی په لوګر کی ددښمن یو شمیر موټر اوټانکونه هم تخریب شویدی ، په کابل باندی له پغمان ، کوه صافی اوچکری نه دمجاهدینو توغندو یی برغلونه دوام لری ، دیوولسمی فرقی دخادرئیس جنرال احمد شاه همدا اوس دمجاهدینو په مرمیو وژل شوی دی .

دکابل غزنی سړك دوردګو په سیمه کی بنددی ، په غزنی خو ناکامه بیرته په شا وتښتیده .

دخوست زوږهوایی میدان دډیرو ویجاړوالوتکو له لاسه داستفادی وړنه ؤ دکابل درژیم پلویانو دهغه ترڅنګ بل هوایی ډګرجوړکړپه هغه کی هم تراوسه پنځه طیاری تخریب شویدی اوپه هفته کی یوه دوی الوتکی خامخا پکی له منځه ځی ، دښمن په مجاهدینو یو تعرض وکړخوتلفات یی وزغمل اوناکام په شا ولاړل .

۶۱ مخ کی

تحطی درروسیه وپرابلم کمك با ...

دشوارتر میشود .

یك خبرنگار خارجی درکابل ضمن بررسی مشکلات گرباچوف رئیس جمهورروسیه نوشته است که موصوف بخاطرجلو گیری ازروبرو شدن کشورش با دوفاجعه سخت تلاش مینماید این دوفاجعه عبارتند ازاحتمال درگیری نیروهای عراقی وامریکایی ودیگری کمبود مواد خوراکه وسوخت درزمستان جاری درروسیه میباشد .

خبرنگار موصوف علاوه نموده است : روسها با مدنظرداشت دشواریهای موجوددرانکشوردررابطه به مساله افغانستان بیشتر برحل سیاسی داخلی علاقه گرفته وبه ان امید وارهستند

طبق یك خبر دیگرروزنامه واشنگتن پست نوشته است : اگاهان درغرب باین عقیده هستند که برای کرملین مشکل است درحالیکه به ارزش ملیارد ها دالر کمك مواد غذایی را از غر ب درخوا ست می کند برای ادامه کمك به رژیم کابل دلیلی را ارایه دهد. روزنامه به قول یکی از دیپلوماتهای غربی درپاکستان نوشته است : گرباچف باید نزد خود فیصله کند که ایا مواد غذایی را به نجیب درکابل ویا یلتسین درفدراتیف روسیه بفرستد .

دیپلومات مذکور گفته است درحالیکه غذا در سفر ٥ مسکو و لیننگراد موجود نباشد برای ارسال مواد غذایی وسوخت از طرف شوروی به حکومت کابل دلیلی دیده نمیشود روزنامه نوشته است که سال گذشته شوروی باوصف مشکلات سیاسی اقتصادخویش برای حکومت درکابل بحیث اخرین حکومت دست نشانده خویش کمك کرده واشنگتن پوست علاوه نموده است : درباره ذخایر مواد غذایی در کابل گزارشهای متفاوتی در دست است اما ناظرین اگاه غر بی گفته اند که رژیم کابل به کمك مواد غذایی وسوخت حداقل درهر هفته ضرورت دارد .

بقول روزنامه طی سال گذشته بخش بزرگ مصارف نظامی رژیم کابل را شوروی تهمسیه نموده امابرای اهالی ملکی مواد غذایی از پاکستان بصورت قاچاق وارد گردید.

روزنامه ازقول یك دیپلومات نگاشته است شوروی از گسترش مصائب در جمهوریت های اسیایی خویش انقدر نگرانی دارد که نمیخواهد موقف خود را در مورد افغانستان تغیر دهد .

جهادي ادب

پیغام مې سرحد نه مني جهان لاندې کوي
تکبیر مې پورته خیژي او آسمان لاندې کوي
رالوېږي اونړېږي به جوړ شوي معبودان
قیام مې غزنوي شولوبُتان لاندې کوي

لنډۍ

په ګرد بېزبیلتانکونه راغلل
مجاهد لوکې کړ دلته مورچونه ځینه

یتیم چې شراړي پر وانګړي
پلار يې شهید وي ستر کې چاته واړوینه

قومندانان سر یو کېږي
نجیب حیران دی چې به کوم طرف ته ځینه

زماخواني تر ې صدقه کړم
چې شپې او ورځې په سنګر کې تېروینه

حقاني بیا سنګر ته لاړو
ایمان په زړه به دښمنان له منځه وړینه

محمد هاشم حبیب

لنډه کیسه

شهریار

شلیدلي جامې

هغه غریبه به لا په دی طمعه وه چی وطن به خدای پاك ازاد کړی خو خبره نه وه چی دا لانجه به دومره اوږده شی چی ډیر تازه ګلونه به دمرګ په خوب ویده کړی خواری مزدوری نه ورته پیداکیده داکرم اوکریم دپاره یی دډیر مجبوریت دوجهی نه سوال شروع کړو دپښوربښارپه ریستورانو (هوټلونو)کی به درپه درخاوری په سرددوو وروګیدو د ډوډۍ لپاره دهرچا مخی ته ودریدله که دچا زړه به ښه وو خوډوډۍ به یی ورکړه اویا یوه روپۍ اوځینو خوبه دډیر قهرنه تری مخ وګرځاوه ډوډۍ دی رابانډی زهرکړه څه ورکه شه بهر ووځه خپل ملك خومووران کړ اوس داملك هم ورانوی دهوټل مزدوربه ډیکه ورکړه وځه دمیلمنو په نشه کی خارمه اچوه خیرنی جامی اوزیږ مخ دی نیولی دی ووځه :

صابره تروربه وچی شونډی دهوټل څخه راووته خدایه پاکه داڅه وخت دی رابانډی راوستودیوی ګیډی مړی دپاره دهرچا مخی ته ولاړه یم که وطن وران نه وای اوګل محمد خان شهید شوای نه وای نوولی به دی پردی وطن کی داسی بی پته ګرځیدم که یواځی زما سر وای خو مابه دوخته یو پوټی زهر خوړلی وای اوددی دنیا نه به می سترګی پټی کړی وای خو داکرم اوکریم جان غم راسره دی چی بیا به یې څه حال وی ډوډۍ به هرڅوك نه ورکوی خدایه زه ښه ګورم چی زموږنور وطنداران په رنګ رنګ بنګلو کی اوسیږی په ښو ښو موټروکی ګرځی رنګ رنګ خوړل کوی خوری خیټی یی مړی دی ... اوزمادغریبی ورسره څه فکر هم نشته چی اخر داخو هم زموږیوه بی اسری تورسری مهاجره خورده چی دحال لړه پوښتنه خویی وکړو نه هیڅکله هم نه هغوی خو اکثر چی ما ووینی کرکه رانه وکړی اوځایی دوستانوته ووایی چی دی خلکو دافغانانو نوم وشرماوه کوچیان خلك دي داسوال کول یی عادت دی په جواب کی ورته وویلی شی چه

(۵)مخ کی

دحیاغرونه

سیدرهبر

سامراجیانو ته مرګونه افغانان دي
دپښتواو حیا غرونه افغانان دي
دملت دغلبې دعروج لارکې
ځي په بره شنه بازونه افغانان دي
دالحاد د ړنګ انونو خس وخارته
دعبرت تند سیلابونه افغانان دي
چې دحق په نامه تیر دي سرومال نه
دملي تاریخ نازونه افغانان دي
دوطن دهر غلیم دسر د پاسه
راپرېوځي تندرونه افغانان دي
داد ب او سیاست په دنیاګۍ کې
درڼا ډک میناوونه افغانان دي
دکریملن د نهوست سپېرې ماڼۍ ته
زلزلې دي توپانونه افغانان دي
دخوشحال ، ښکه دخوب تعبیر پوره شو
درونډ فطرته روڼ مخونه افغانان دي
چې بېچي د اشتراک يې په لړ زان کړل
دوطن دنان مړونه افغانان دي
دتیټ سترګي استعمار ورځې پوره شوې
ورغوته پرې هسک سرونه افغانان دي
ای «رهبره» دقلم او توري باب کې
دزرین وخت یاد ګارونه افغانان دي

دجهاد خاطره :

(عوض الدین «صدیقی»

دتاریخ په پاڼو کې ووفانوم

په هغه ساعت کی داسی ښکاریده چی اسمان هم دوی سره په غم کی ځان شریك کول غواړی اسمان کی .وریځ ورو ورو په حرکت راغلل ، اودلمر دطلایی وړانګو ځلا اوجلبل یی تت کړ ، داسی لکه چی دغم سپیره ګردونو دمجاهدینو نورانی مخونه ترګردونو لاندی کړی ؤ ، مجاهدین هری خوا، دوه، دوه ، دری ، دری ولاړ ؤ هریوه همدا فکرونه جنګول چی څه ډول اودکومی لاری بیا پر پوستی تعرض وکړی ترڅو د«شیرانی» جسد !! راواخلی ، ددښمن له منګولو یی راخلاص کړی ، چا به ویل : هله ! زرکړی ... که یوواردښمن ځای پر ځای شوی بیا خبره اوږده کیږی...

اوچا به سوړاسویلی وباسه : اف خدایه !... شیرانی عجیب ځوان ؤ .

اویوه نیم بیا ویل : زه خوالله که پوهیدلی وم چی دی څه ډول تېپی شو ... ما ویل چی دابه دټولو مخکی

(۵)مخ کی

جهادي فولکلور

وائی یوه ورځ کارمل او برژنف په هلیکو پترکی د سائیر یا خواته روان وو د هلیکو پتر په مینځ کی څه شی باندی سره دعوا شوه . آخر خبره دی حدته ورسیده چی سره په جنګ شول ، برژنیف ، کارمل تیل واهه او دالوتکی کوزو غورځاوه خو کارمل زیاته چالاکی وکړه او الوتکه یې د تیرو راونیوله او ځان ئی زورند کړ، برژنیف چی هر څه وکړل په دی بریالی نشو چی هغه کوزوغورځوی. آخر نی پری غږ کړ: کارمله !

هغه چی مخ ورته راواړوه .ده ورته وویل : د افغان روسی دوستی دی ژوندی وی .

کارمل چی تائید لپاره دواړه لاسونه پورته کړل کوزلوید .

د شهید دوکتور عبدالله عزام د شهادت دلومړۍ کلیزې په مناسبت :

دعظمتونو اتل

شفیقي

دټول امت شو د ملت له پولو واوښتلو
شهید عزام « د شهادت له پولو واوښتلو
ما يې کتلې په تندي کې د خلوص نښانې
خو هغه لوړ د صداقت له پولو واوښتلو
ویې یې : دښمن دی که یهود دی که روسان یو دي
خواره واره د شرق اوغرب مسلمانان یو دي
افغان جهاد یې د القدس جهاد و بللو
وینه یې ګواه شوه چې القدس او افغان یو دي
لکه نسیم ؤ نا کراره په مزلونو مدام
تش د عربو په ماحول کې ایسار نشو
دټول امت دخلافت او دوحدت ارماني
تر شهادته سرګردانه ؤ کرار نشو
یوه جذبه وه ، یو تحریک ؤ یو دوران ؤ عزام
د دې امت دعظمتونو ترجمان ؤ عزام
عزم یې پوخ ، لوړ يې خیالونه او سوچ یې آرمان
د انسانیت په خدمتونو کې ستومان ؤ عزام
په یوه لاس کې یې قرآن په بل کې توره مدام
هم د دعوت ، هم دجهاد د مورچلو نو اتل
مخلص داعي ، سرتېر غازي ، مطیع سپاهي د اسلام
له فلسطین تر هندوکش دعظمتونو اتل

چې دحق په ننګه ومري اوقربان شي
ابدي شي نوم يې پاتې جاودان شي
چې دوخت دجهاد ټاټوبي ته سېروي
بس هغه دتاریخونو قهرمان شي

موږ په افغانستان کې څه ولیدل؟

دمجاهدینو په لاس ذنیول شوو روسي پوځیانو خاطرې

زباړه: مسلم

پدی ورروستیو ورځو کی انستیتوت اف برجنل ستدیزپشاورچی دافغانستان دروان جهادپه باب پلټنې کوی د «هم نے افغانستان میں کیادیکها؟» (موږ په افغانستان کی څه ولیدل ؟) تر عنوان لاندی یوکتاب خپورکړ چی په هغه کی دهغو روسی پوځیانوخاطری راټولی شوی چی دمجاهدینو په لاس نیول شوی موږدخپل قهرمان ملت داتلوال مقاومت او جهاد دژوندی سند او ثبوت په توګه ددغو خاطرو ځنی برخی دجهاد هنداری لوستو الوته په مینه وړاندی کوو.
ادارہ

روسی مشرانو دیرغل په پیل کی هغه پوځیان افغانستان ته راولیږل چی زیاتر • یی دنیول شوو محکومو اسلامی ریاستونو اوسیدونکی ؤ روسیی واکدارانو فکر کاوه چی ددی سیمو خلك دافغانانو سره پخوانی فرهنګی ،مذهبی ژبنی او اخلاقی اړیکی لری نوبنایی چی افغانان به دروسی څخه کرکه ونه کړی خو دیرژرروسانو دامحسوسه کړه چی ددوی داچال په ډیر بد ډول ناکام شو ،په دی چال کی خپله دوی ماته وخوړه ،ددی پرځای چی داپوځیان دمجاهدینو — په مقابل کی له جری رویی کار واخلی او د دوی موجودیت دروسانو پرخلاف غورځنګ متاثر کړی په خپله دمحکومو اسلامی ریاستو نو پوځیان دافغانانو په مینه کی بند پاتی شول .
مجاهدینو ته یی لیکونه ولیږل چی موږ ستاسی وروڼه یوو، موږ ستاسو پرخلاف جنګیدل نه غواړو موږ ستاسو د جهاد ملاتړ کوو، دی پوځیانو دخلکو سره اړیکی، ونیولی او هغوی ته یی د منځنی آسیا دمسلمانانو بد حالت دیوه درس په توګه وښووه .
کله چی دمنځنی آسیا دمسلمانانو پوځی قطعات یی دمجاهدینو پر خلاف جنګوته ولیږل دوی په نه زړه پکی برخه اخیسته ، دوی به چی مجاهدین ولیدل دشاته تګ لاره به یی ونیوله اوخپله وسله به یی ځای پر ځای پریښوده ترڅودمجاهدینو لاس ته ورشی .
کله چی روسی مشرانو ولیدل په دی چال کی مات شول نوډیر زریی دمحکوم اسلامی ریاستو پوځیان بیرته وغوښتل اودهغوی پر ځای یی نورپوځیان چی زیاتره یی دروسیی دمحکوم قومونوڅخه ؤ راولیږل ، ددوی عمرونه ډیر کم ؤ زیاتره د۱۹-او۲۲-کالو ترمنځ ؤ ، دوی زیاتره د«یوکرائن » ، ګرجستان ، لیتوانیا ، ارمنیا اواستونیا اوسیدونکی ؤ ددوی له جملی څخه په سلګونوتنه دمجاهدینو په لاس ژوندی ونیول شول اوځینو یی پخپله مجاهدینو ته ځانونه تسلیم کړل هغوی وایی : « موږیی دکورونو ، ښوونځیو ، فابریکو اوفارمونو څخه په زوررا یستلی یوو، دپوځی روزنی په دوران کی به یی راسره ښی وعدی کولی دښه راتلونکی اوښی تنخواه زیری به یی راکاوه اودایځ راته ویل چی تاسو ختیځی اروپا ته دپوځی خدمت لپاره لیږو ، خو حقیقت هغه وخت راته روښانه شو چی افغانستان ته راولیږل شو .
دروسی مشرانودادروغ ددی لپاره وُچی په روسیی کی دخلکو له عکس العمل سره مخامخ نشی ،ځکه چی له یوی محدودی استعماری ولی پرته نور روسان ددی جګړی طرفدارنه ؤ .
روسانو فکر کاوه دمجاهدینو مقاومت به ددوکالو زیات دوام ونکړی نو حقیقت ددی پرعکس ورته ثابت شو .
دروسیی دمحکومو قومونو دځوانانو په رالیږلو سره هم دروسانو پروګرام بریالی نشو ، جنګ دوخت په تیریدوسره لاخپریده ، هغو ی مجاهدینو ته چی په لومړی کالو کی غیرمنظم ، دوسلو بی برخی ، اویوه کم قوت په سترګه لیدل کیده ورو، ورودقوت اواستقامت یو طوفان وګرځیدل دجنګ غیر یقینی حالاتو دروسی پوځیانو مورال ضعیف کړ .
یوروسی نیول شوی پوځی داحالت داسی بیانوی : «کله به چی موږله غرونوتیریدو هرشی به راته ارام ښکاریده موږبه داسی فکر کاوه چی هیڅ ژوندی موجودپه دی غرونو کی نشته خوناڅاپی به پرموږډیوی خواګولی وچلیدلی وروسته به بیا دغرونو هره تیږه ، بوټی او ... راته مجاهدښکاریده بیاهلته جامد موجودات نه وو، کلاشینکوف به ؤ اومجاهدین اوزموږدپر مخ تللو وسلو سره سره تیښته »
مجاهدین داسی تښه ولی چی وغواړی روسی پر سرولی ویشتلی ځی شی دروسانو دمورال دضعیف کیدو یوه وجه داهم ؤه اوبیا به چی کله د«الله اکبر »دملکوتی نړوانګازی په غرونوکی خوری شوی «دیوه روسی پوځ په وینا زموږپه زړونو کی به درزا شوه »
کله چی یوغربی ژورنالیست په ماسکو کی دافغانستان څخه دراتیښتیدلی یوه پوځی سره مرکه وکړه هغه وویل : «دډیروارِه جنګ لپاره به موږته ښځی زیاته وسله راکول کیده اوچیرته به چی موږدمجاهدینو دموجودیت خطر حس کړ ، زموږله جملی به هر یوه له خنډه پرته په هرشی باندی ډزی کولی ، کورونه ، دوکانونه اوجوماتونه موږدی لپاره له مینځه وړل چی په هغوی کی مجاهدینو سنګر نوی نیولی ، پرموږبه زیاتره ناڅاپی حملی کیدې .
نوربیا .

شلیدلی جامی ...

تیك ده موږیی ډیر ښه پیژنو خویه خدایه حقیقت خوتاته معلوم دی که نه زه خوداسلام اووطن لپاره کونده شوم واړه یتیمان بچی می بی اسری پاتی شو دخلکو خذمتونه می وکړل په سوال می تول کړو په دی وجه چی که زامن می خدی پاك غټ کړی نودخپل شهید پلار په قدم به قدم کیږدی اودوطن دازادی لپاره به وینه تویه کړی مزدوری پیدا کیږی نه چی سوال ونه کړم هغه واړه بچیان په خاورو ماړه کړم !دافغان نوم ما وشرماوه اوکهغه چا چی پخپل عیش اوعشرت نشو اوتماشو کی ددولت په مزو کی ډوب پراته دی دوطن دازادی دجهاد مینه لاڅه دلمانځه اوداسه نه هم بی خبره دی پخپله دیو وخت په ډوډۍ باندی زریونیم زرروپۍ لګولی شی خو زمادپاره ورسره دوی روپۍ هم نشته زما بچی دخلکو ماشومانو ښی جامی اولباس وینی دپلارونو مینی داولاد سره وینی خو هیڅ هم نشی کولای ځکه چی الله (ج) پر ی راوستی ده .
دحاجی صاحب سره دی خدای ښه وکړی چی دکورنه بهریی یوه وړه کوټګی خیراتی پدی شرط راکړیده چی زموږواړه به کله کله لوبوی اونوردی خپل کاردی اوس خو کریم اواکرم ښه دی واړه ورته لوبوی اوزه کله څه خواری مزدوری اوکله خیرات ټولوم ...
دحاجی صاحب په کورکی هم دصابری تروړنه کرکه کیدله خو داخیرځکه چی دسرمایه داروخو داپخوانی عادت دی صابری به چی مازدیګرڅه راټول کړی وو دبچو په مخ کی به یی کیښودل بچو به یی په ډیره خوشحالی خوړل اوویل به یی موری که خدای موږغټ کړی نو ته به بیا دحاجی صاحب دښځو به شانی په کورکی ناسته یی اوموږبه دوکانونه کوو دموږدسترګواوښکی به یی زړه ته کوځیدی په خوله به یی ویل چی ښه ده کنه بچو!
نن ورته اکرم اوکریم ډیر وویل چی موری نن مه ځه موږسره کینه نن ډوډی نه خورو خو صابری ونه منله وي نه بچودوخته به راشم راروانه شوه صابری ته داپته نه وه چی زه به بیا خپل بچی ونه وینم دچا په کورکی ورته کارپیدا نشو کرکه یی ترنه کیدله دخیردپاره یوهوټل ته ورغله دورننوتو سره پری بدمغزه شرابی انسان دهوټل څښتن راټوپ کړ ګذار یی پری هم وکړ دهوټل څخه یی په منډه په ډیکه راوکښله سرك ته په رارسیدو دیو تیز رفتارموټردلاندی شوه اودموټرټیرونه دصابری تروړپه پاکه وینه ککړشول کلمه یی له خولی وختله داکرم اوکریم نوم ترنه خلکوواوریدل اودوڅت رناکردو څپېرو داسی وواهلچی دارمانونو ډك زړګی ددی فانی دنیا نه ولاړه خلکویی مړی راواخیسته په کټ کی یی واچوه اوچا رحمدل سړی پری څادر وغوړاوه بد مغزه اوشرابی هوټل والا خوبی خواته هم رانه غی دهرچا په خوله داخبره وه چی غریبی دی ورکه شی بدشی دی هیڅ چانه

(٦)مخ کی

دتاریخ په ...

کوزشوی وی عجیبه حالت ؤ ، مجاهدین هری خواګرد ، ګرد تاویدل ، جذبی راپاریدلی وی ، وینی په غورځنګ وی ، اوبالاخره توپان شو اووالوت ، مجاهدینو چانتی ډکی کړی او د«الله اکبر» نعری په پورته کولو سره یی ددښمن پر پوستی ورودانګل ټولو دزمرو په شان پر پوستی ور روان ؤ هریوه کوښښ کاوه چی زرځان شیرانی ته ورسوی ترڅو دتاریخ په پاڼو کی دوفا نوم ثبت کړی ، په څو ګنټو کی مجاهدینو ددښمن پر پوسته بیا شین بیرغ وړیا وه اوشیرانی یی شهید نه ، ټپی وموند اومرکز ته یی په بیړه ، بیړه راوړساوه ، شیرانی چی اصلی نوم یی میرشاخان دی په هماغسی نورانی مخ اوخندا ډکه خوله زما مخی ته ناست دی دهغه څخه چی څوك ددی پیښی دجریان په باب څه وپوښتی کټ ، کټ په خندا شی :
عجیبه حالت ؤ ، زه ټپی اوپه داسی حال کی چی وینی راڅخه بهیدی پر ځمکه پروت وم ، دځایه جګیدی نشوم خوچی پوستی ته درژیم عسکر راوختل ماته نږدی نشوی راتلی ، په هغه حالت کی هم دوی ویریدل ، ټولو دکلاشینکوف خولی زما خواته نیولی وی مادروی دګولی انتظارایست چی څه وخت به زما په تن کی سرېږی ، خودوی دماشی دکش کولوتوان له لاسه ورکړی ؤ ، لاسونه یی لړزیدل ، دوه تنو یی زما خواته ځانونه په سینه راکش کړل خوچی لږ رانږدی شول یوی تیږی ته یی موضع ونیوله .پر پوستی بیا ددرندو وسلو انداخت پیل شو دپوستی شا وخواته دمجاهدینو دتوپونو داسی ګولۍ لګیدلی چی ددښمن پوځیانو سر نشو جګولی زما ترڅنګ دتوپ دوه ، دری ګولۍ ولګیدی چی پر ټپونو می څوټپه نورهم وراضافه شول ، نورپه ځان پوه نشوم ، بیخوده پریوتم اوچی په هوش راغلم لیدل می چی د«شلګی» پر پوسته شین بیرغ رپیږی اوزما مخی ته دبی غیرتی اوډارکالبوتونه نه بلکی دمړانی اوشجاعت نمونی ناستی وی .

له نجیب سره مجاهد افغان په هیڅ ...

دزابـــل مـــرکـــز «قـــلات» دمجاهدینوله خواترسختی مـحـاصـری لانـدی دی کـوم اکمالاتی اوکومکی کتارچی له کندهارنه ورته راروان ؤ په لاره کی دمجاهدینو ترمردانه گوزارونو لاندی توتی توتی شو ، څه یی وسوځول شول اوڅه په تیښته کندهار ته بیرته وتښتیدل ټولی ځمکنی لاری پـه قـلات بـنـدی دی اودښمن په پراشوتو کی دقلات دمحاصره شوی مرکزاکمالات کوی .

دکندهاردهوایی میدان په پوستو دمجاهدینوبریدونه دوام لری دشوری له پریکړی نه تراوسه پوری دکندهارپه هوایی ډگردری الوتکی راغورځول شوی اوسوځیدلی دهلمند په ولایت کی هم جگړه روانه ده کومه قوه چی دهغوی دمرستی لپاره ورتله په ریگستان کی دمجاهدینو لخوا تـردرنـو عملیاتو لاندی راغله ، په بادغیس ، هرات اوفراه کی هم سختی جگړی دوام لری دبادغیس شا وخوا پوستی ټولی دمجاهدینو په لاس فتحه شویدی له هرات نه بادغیس ته چی کوم پوځی کاروان روان ؤهغه په لاره کی مجاهدینو ځپلی دی .

نورکالونه به دیخنۍ په موسم کی مجاهدین اوقوماندانان دلته پیښورته راتلل پوځی عملیات اوبریدونه به لړیدل خو سږکال دخدای (ج) پـه فـضـل دادی گوروچی دیخنۍ په موسم کی هم دمجاهدینو دوامداربریالی بریدونه روان دی یو پربل پسی ددښـمـن پـوځـی پـوسـتـی اومرکزونه فتحه کوی همدا اوس سختی جگړی دوام لری مجاهدینو دنورو کالونو په نسبت یو والی او اتحاد ته هم ډیره پاملرنه کړی ده اوترډیره حده یی اختلافات ختم شویدی داتود جنگ اوبریالی عملیات ښیی چی نجیب چی کومه ادعا کوی هغه دروغ ده نجیب ددی ادعا کـوی چی مجاهدین ، قوماندانان اوجهاد مشران له ماسره توافق ته رسیدلی دی خو دادروغ ده ځکه هغه دی ټول یی وینو چی جگړه لاترنورو وختونو توده روانه ده که چا لـه هـغـه سره تـوافـق درلودلی بیا باید جگړه نه وای نجیب به موفق ؤ جنگ به نه ؤ، خو اوس وینو چی نجیب وارخطا دی او جگړی ښه زورنیولی دی .

همدارنگه داهم باید ووایم نجیب چی په دی وروستیو وختونو کی ژنیو ته تللی اوبیا له ځنو کسانو سره دخبرو اوتوافق ادعا کوی دقوماندانانو دشوری دریځ په دی هکله دادی چی لـه نجیـب سره مجاهدافغان په هیڅ صورت نشی کتلی اوهرڅوك چی ورسره گوری هغه دجهاد اوزموږدمسلمان ملت دښمن دی دالحاج حقانی صاحب لـه څرگندونو وروسته قوماندان انورخان په لنډ ډول وویل:

دغه کنفرانس دنجیب دادعا په باب دایر شویدی نجیب ادعا کوی چی هغه له ځنو جهادی مـشـرانـو سـره لـیـدلـی اودافغانستان دربړی دحل په باب توافق ته سره رسیدلی یو دقوماندانانو شوری دغه عمل حرام اومردود بولی اوهرڅوك چـی داکـار کـوی هـغـه دافغانستان دمسلمان ملت دښمن اوخاین دی.

هـمـدارنـگـه انـورخـان دقوماندانانو دشوری په باب وویل چی دغه شوری ورځ تروروځی پراخیږی او لویږی ، دقوماندانانو دعوت جریان لری هـره ورځ یـو دوه تـنـه نـوی قوماندانان مراجعه کوی ترڅو دشوری غړیتوب ترلاسه کړی .

وروسته بیا دمازدیگرلمونځ په جماعت سره ادا شو اوله لمانځه نه وروسته دڅو دقیقو لپاره خبریالانو ته وخت ورکړل شو چی لـه حقـانـی صاحب نه دشوری په باب پوښتنی وکړی ، یـوه تـن ژورنـالـسـت پـه انگلیسی له الحاج حقانی صاحب نه پوښتنه وکړه چی په کابل اوشاوخواپوستوخودحکمتیار صاحب په ابتکار اوقومانده عملیات روان دی تاسو هغه دقوماندانانو دسرتاسری شوری افتخارات ولی بولی دوهم داچی دجهاد ډیر مشهورقوماندانان خو په پیښورکی دی نو هلته به جهاد څوك کوی ؟

حقانی صاحب ددغه خبریال په ځواب کی داسی وویل :

دحکمتیارصاحب عملیات مجاهدینو اودقوماندانانو له عملیاتو نه بیل نه دی خودادحکمتیار صاحب دهغی لویی حملی اوسرتاسری عملیاتو جریان هم نه دی چی هغه مخکی طرحه کړی وه ، هغه سرتاسری لویه حمله دموسم دسړوالی په وجه وځنډول شوه خو حکمتیارصاحب چی کوم عملیات کول هغه یی ددغه قوماندانانو په مشوره اومرسته کول ، حکمتیار هیڅکله هم دنورو قوماندانانو له ارځښت اورول نه سترگی نشی پټولی اونه یی پټوی .

دسوال ددوهمی برخی په باب وایم چی لومړی زه دانه منم چی مهم قوماندانان په پیښورکی دی اوس افغانستان دڅو محدودو قوماندانانو سنگر نه دی دلته په پیښورکی به یو څو تنه قوماندانان وی هغه هم له خپلو جبهاتو سره مستقیم مخابروی ارتباط لری بل داچی دی قوماندانانو اوس په جبهو کی داسی پیاوړی قوماندانان روزلی چی ښه جنگ اداره کولی شی .

صدام حسین خو کویټ ته نه ؤ تللی خو قوماندانان اوپوځونه یی استولی وو ، اوس په افغانستان کی جگړه هم دیوه قوماندان په موجودیت اونه موجودیت پوری اړه نه لری

یو بل خبریال بیا پوښتنه وکړه چی :

داسی ویل کیږی چی دخوست دفتحی مخنیوی تاسو کوی ځکه که خوست فتحه شی په تاسو به مرستی ودریږی ځکه دخوست دقواؤ قوماندانانو تاسو ته دتسلیمی پیغام هم دراستولی ؤ خو تاسو «حقانی» نه ؤ قبول کړی .

حقانی صاحب ددغه خبریال په ځواب کی وویل :

داخبره له عقل سره منافی ده چی ماته دښمن دتسلیمی پیغام رااستولی خو ما منفی ځواب ورکړی داخبره حقیقت نه لری ځکه یو قوماندان مصرفونه کوی شهادتونه اوقربانی ورکوی ترڅو یو ځای تسلیم کړی نو بیا داخو دعقل منافی ده چی په کوم ځای دومره فشارراغلی وی چی هغی دتسلیمی غږ کوی اوموږیی دغه غوښتنه رد کړو دغه خبره دروغ ده خوشی پروپاگند دی .

سلطان صدیقی دیوی پاکستانی ورځپاڼی خبریال پوښتنه وکړه چی دقوماندانانو شوری چی له نجیب سره خبری اتری ردوی که دنجیب رژیم سقوط وکړی تاسو هغو ته کوم متبادل قیادت اوچوکاټ لری ؟

حقانی صاحب ځواب ورکړ هو لرو یی خوڅرنگه چی دماښام دلمانځه وخت ؤ کنفرانس ړنگ شو له همدی امله ځنی پوښتنی له موږسره بی ځوابه پاتی شوی

> مولانا جلال الدین حقاني :
> نورکالونه به دیخني په موسم کي مجاهدین اوقوماندانان دلته پیښورته راتلل پوځي عملیات اوبریدونه به لړیدل خو سږکال دخداي (ج) په فضل دادي گوروچي دیخني په موسم کي هم دمجاهدینو دوامداربریالي بریدونه روان دي یو پربل پسي ددښمن پوځي پوستي اومرکزونه فتحه کوي همدا اوس سختي جگړي دوام لري مجاهدینو دنورو کالونو په نسبت یو والي او اتحاد ته هم ډیره پاملرنه کړي ده اوترډیره حده یي اختلافات ختم شویدي

> قوماندان انورخان :
> دغه کنفرانس دنجیب دادعا په باب دایر شویدی نجیب ادعا کوي چی هغه له ځنو جهادي مشرانو سره لیدلي اودافغانستان دربړی دحل په باب توافق ته سره رسیدلي یو دقوماندانانو شوری دغه عمل حرام اومردود بولي اوهرڅوك چی داکار کوي هغه دافغانستان دمسلمان ملت دښمن اوخاین دی.

شلیدلی...

پیژندله پولیس راغلل مړی یی شفاخانی ته یوړو مقدمه یی درجه کړه چی موټروالا څوك وو اوڅه شودخوا اوشا خلکو پیژانده ځکه چی ددی رقیبی اوسیدونکی وو خو دښو دلو سره یی دچا کارڅه وو اوکه ښودلی یی هم وای نو پولیس به دهغه څه کړی وا ی ماښام حاجی صاحب ته پته ولگیدله چی صابره تروږپه حق رسیدلی ده اکرم اوکریم په طمعه وو چی موربه مو اوس راشی خو څه خبر وو چی مورزموږنه هغی ځای ته لاړه چی بیا هیڅکله نشی راتلای حاجی زمان خان یی مړی راوړو ددووبچو نه علاوه نورڅوك دژړا هم نه وو بس دوه زامن یی وو چی کوکاری یی وهلی سر اوپښو ته کیدل یی موری موږدی دلته چاته پریښودو اوموږهم دروله

موږدشپی پدی کوټه کی یریږو حاجی صاحب ډیردلاسه کول خو دلاسه اوس دهغوی دوس خبره نـه وه شپـه تیره شوه اوسحریی صابره ترووردارمانونو اوهیلوډك زړگی دزمکی خیتی تـه ورکوزه کړه اکرم اوکریم دخلکو نه وروسته په ژړا ژړا راروان وو ببر سرونه خیرنی شلیدلی جامی زیر مخونه ... دجناز ی دخلکو په خوله دایوه خبره وه چی ډیرښه ښځه وه ډیره غریبی پری تیره شوه خدای دی وبخښی خو هیچا هم دانه ویل چی داماشومان به څوك پالی اوڅوك بـه ډوډۍ ورکوی راځی ددی غم وخورو ... اومعصوم ماشومان ببر ببر سرونه له شانه ورپسی روان وو نه پوهیدل چی چیرته روان دی اودڅه لپاره ؟!

تلاش جدید ...

اسلامی درافغانستان سخت درهراس اند لذا این دوکشور سعی می کنند طرفداران شان راباهم نزدیك ساخته بالاخره قدرت سیاسی رابه انها انتقال بدهند تابتوانندباین گونه هم ازتشکیل یك حکومت اسلامی درافغانستان مطابق میل مردم ما جلو گیری نمایند وازطرف دیگر حکومت دست نشانده شان حامی منافع ناجایزابر قدرتها باشد .

طوریکه مطبوعات افشا نموده نجیب رئیس حکومت کابل حاضر است با وارد شدن ظاهر شاه به صحنه قدرت رابه وی تسلیم داده وخود بحیث رئیس حزب کمونستی فعال مایشا درپشت صحنه باشد .

نجیب درپیشنهاد تازه خویش نـیـزکـاذبـانـه تـلاش نموده تاکمسیون رابااعطای بخشی ازصـلاحـیـت هـای رئـیـس جمهورشاد ساخته خودش بر کرسی ریاست جمهوری ارام تکیه بزند .

پیشنهادات نجیب وظاهرشاه دوحلقه یك زنجیر است که میخواهد با ان پای نیروهای جهادی راببندند .

درسمت مقابل این طرحهای مزدورانه دشمنان مردم ما نیروهای جهادی با اتحاد جدید قوماندانها باتخاذ اقدامات عملی برای برگزاری انتخابات گام های جدیدی رابر داشتند که میتواند بـا اتحاد اهنـیـن وصـادقـانـه طرحهای مخالفان تشکیل یك حکومت اسلامی درافغانستان را خنثی سازد .

نـیـروهـای جـهـادی نـبـایـد درصحنه سیاست میدان رابرای تبلیغات حکومت کابل خالی گذارند ، چنانچه قبلاً نیز بارها تجربه شده است حکومت کابل با براه اندازی تبلیغات کرکننده پیرامون طرح های میان تهی خود نسبتاً توانسته است توجه محافل علاقمند به مسایل افغانستان رابطرف خود بر گرداند .

بـنـا ء بـا درنـظـر داشت تجارب گذشته باید به طرح حکومت کابل با اقدام ویا ارائه پیشنهاد جدید پاسخ داد وموقع نباید داد که با پیشنهاد میان تهی غوغای صلح جویی برپا نموده نیروهای جهادی راجنگ طلب معرفی نماید .

طرح وغایه جهاد همانا ترد ریشه هاوبقایای نابکار کمونیزم ازکشوروبنیاد نهاد یك حکومت اسلامی بمیل مردم مسلمان افغانستان میباشد .

په هند کې دمسلمان وژني په فتنوګې (۴۰) تنــه وژل شوي اوپه سلګونو تنه ټپيان شول

نوی ډیلی : له نوی ډیلی نه رارسیدلی خبرونه وایی چی په هند کی یو ځل بیا دمسلمان وژنی فتنی سررا اوچت کړید ی ددغی فتنی په لړ کی (۴۰) کسه وژل شوی او په سلګونو تنــه نور ټپیــان شویــد ی همدارنګه په حیدراباد – دکن او علـی ګړ ښارونـو کـی په ګرځـیدو را ګرځـیدو بنـدیز لګیدلی د هند خبری اژانس ویلی چی په حیدراباد کی پر بندیز لګیدو برسیره هم فتنه جاری وه د هـنــدوانــو او مسلمانانو تر منځ سخته شخړه شوی چی (۱۵) تنه وژل شوی او «۴۵» تنه سخت ژبل شویه

پولیسو دجګړه ماری ډلی دبیلولو لپاره ډزی کړی چی په هغوی کی هم یو تن وژل شویدی کوم چی د خلکو په کورونو بی اور لګاوه په علی-ګړ ښار کی هم د متعصبو هندوانو له خوادبابری جومات د شهـیـدولـو د اقدام پـرسـر د مسلمانانو او هندوانو تر منځ نښتی شویدی چی څلور تنه پکی وژل شوی او په لسګونو تـنــه نـور تـپـیــان شـویـدی همدارنګه په احمداباد کی ګنج ونډ واره او ځنو نورو کلیو کی هم دغـسـی نښتـی شویدی او زیات کسان وژل شوی دی په احمداباد کی افراطی هندوانو د مسلمانانو یو شمیر کورونو او دوکانونو تـه هم اور اچولی تر اوســه پوری دغـه شـخـړی او فسادونه دوام لری .

❋❋❋❋❋❋

دخليج په رابطه څيرانووني ...

ملتونو دامنیت شورا دمنځنی ختیځ دمسلی په باب د یوه نړیـوال کـنـفـراس دجـوړیـدو منظوری ورکړی ده .

دخلیج دبحران حل خو دادی چی عراق بیـلـه قیـد او شرط کـویټ پـریـږدی او که هـغـوی پرکویټ کومه دعوه لری هغه به وروسته د خبروپه میز حل کیږی .ترکومه چی دعربو او فلسطین په باب نوری خبری دي نوامریکا باید له واقعیبنی نه کارواخلی او د اسرائیلود ملاتړ نه لاس په سرشی که دامریکا دریغ دادی چی هلته یهودیان داوسیدوحق لری نو د هـمـدی اصـولـو پـه رڼـا کـی فلسطینیان هم هلته د اوسیدو حق لـری که یـهـودیـان دخپلو سیـمو په حدود وکی دننه په اوسیـدو بسیـا شی او د عربو پرسیمو له تیری نـه لاس په سرشی نو په عربی نړۍ کې سوله راتلی شی.

مـزدورنجيب دوروستيو ...

بي پوښتنی بې محاسبی او بی محاکمی پاتی کیدای شی داسلام دمقدس دین د احکامولـه مخـــ به ووسیو محاسبه کیږی.

مزدور نجیب چی د خپلــو بادارانو په دستور د عبـــوري مرحلی لپاره د افغانستان پخو- انی مخلوع پاچا محمدظـــاهـــر ته د قدرت واګی سپارلوورانديز کړی په دی کی یوشوم او ناولی هدف له ورایه نغښتی ښکاری او هغه داچی روسان پدی پـوه شوی چی د افغانستان دمجاهد ملت د مقاومت په وړاندی چی ، د دوی لاسوپوځی رژیم بقا د دوی هرډول مرستو او بیا تــر دوولکو زیاتو په مدرنو وسلو او، وسیلو سمبال پوځ مستقیمی مدا- خلی تضمین نکړای شوه په بله هیڅ وسیله دغه رژیم پایښـت نشی موندلی او حتما" د مجا- هدینو د مقاومت په نتیجه کـی رانسکور یږی نو ددی لپاره چی له یوی خوایی په افغانستان‌کی د یوخپلواك اسلامی حکومت د جوړیدو مخه نیولی وی اوهـم خپلو مزدورانو (خلقیــانو- او پر چمیانو) ته په راتلونکی د فعالیت زمینه مساعده کړا ی شی او هم یي په افغانستان‌کی د راتلونکی لپاره د ښنی‌ایښودلو ځای او لاسوهنو لاری چاری – ځان د ملت له محاکمی نه شی خلاصولی نو بیا به هغه پـــه کوم جرأت او ځواك د عبور ی مرحلی د قیادت لپاره راوړاندې شـــی.

او که چیری باالفرض هغــه د شرق او غرب د سازش پـــه نتیجه کی دی کارته زړه ښـــه هم کړی نوپه افغانستان کـــی خو له کمونستانو او د هغـــوی له پلویانو څخه پرته مـؤمــن افغانان د هغه قیادت نشـــی منلای .

دافغانستان مجاهد ملـــت ددغو اوسنیو بد مرغیو رامنځ ته کیدل د ظاهرشاه دسلطنـت محصول ګڼی ځکه چی پـــــد همدغه دوره کی روسانو ته د افغانستان په پوځی ،اقتصادی نظامی او ... برخوکـــــی د لاسوهنی او دخلق – پرچـــم د ملحد ناولی باند د رامنځته کیدو او بیا د فعالیت زمینـــه هم په همدغه وخت کی برابـره شوه نو د افغانستان مجاهـــد ملت به بیاڅنګه دی ته حاضـر شی چی د عبوری مرحلی‌لپاره د ظاهرشاه قیادت ومنی . او که ظاهرشاه د روسانو په حمایه د نجیب د ګوښه کیدو پـــــه نتیجه کی په افغانستان کی د غلامانه اقتدار واګی ترلاســـه

لومړي خوداچی نجیب او رژیم یی چی هیڅ ملی او نړیوال قانونی حیثیت نلری په کــوم جرآت د افغانستان د مـؤمـنو خلکو د راتلونکـی برخلیـك (سرنوشت) پـــه اړه داخبره کوی چی د عبوری مرحلی دمشرۍ لپـــاره دی هغه یادغه شخـــص مشر وټاکل شـــی.

هواری کړ ی وی د افغانستان‌د راتلوونکی قیادت لپاره ظاهرشاه پیشنهادوی ددوی په عقیــده ظاهرشاه یوازینی شخص دی‌چی دهغه په رامنځته کیدو ســـره ددوی غوښتنی ترسره کیدلی‌شی اسلامی حکومت د جوړیدو چی روسان یی د ځان لپاره یوستر خطر ګڼی مخه هم نیول کیدای شی او دخپلو لاسپوڅو بقا او له محاکمی او محاسبی څخـــه د ژغو رنی تضمین یی هــــم کیدای شـــی.

خوروسان پدی نپوهیږی‌چی د افغانستان مجاهد ملت چـــی د کوم ستر هدف لپاره پاڅون ، کړی او په دغه لاره کی یـــی وروستی هدف ته درسید و لپاره دا دومره ستونزی او کړاونـــــه زغملی دی هغه د یو ســـوچه اسلامی حکومت له جوړیدو څخه پرته په بل څه نشی تلافـــــی کیدای .

لومړی خو ظاهرشاه خپـــل هم کړی نو زموږ مؤمـــن ملـــت به یی پر ضد وسله وال جهاد ته هماغسی ادامه ورکوی لکـــه څنګه چی تراوسه دروسانو او د هغو دمزدورانو پرضد جهاد او مبارزی سنګر ګرم ساتلی دی.

او چی روسان پخپل ټول زوراو ځواك د خپل مزدور رژیم‌پایښت تضمین نه کړای شو نو د ظاهر شاه د رامخی ته کولو له لاری به څنګه خپل شوم هدف تـــــه ورسیږی .

موږ د لوی خدای(ج)مرستی پراتکاء او د خپل وسله وال جهاد په برکت په داډسرهویلی شو چی د روسانو دا شوم پلان به هم د وخت په تیریدو سر ه د هغوی د نورو پلانونو پـــــه څیر بی اغیزی ثابت شی او زموږ مجاهد ملت به د خپلـــو مجاهدو زعیمانو په پوهه اوتدبر د اسلامی انقلاب له دغه سر- نوشت ټاکوونکی پړاو څخه پـــه بری ووځـــی.

په اجوديا کې پر مسلمانانو ديرغل په ترځ کې يو مسلمان ژوندي سوځول شوي اويوشميرکورونه اودوکانونه داوردلمبو خوراك شول

پــه اجـودیــا کــی چــی درام درمسال جوړولو پـه منظورله تیری پنجشنبی راپه دی خوا یوځل بیا افراطی هندوان راټول شویدی یوسوځول شوی لاش راپیدا شویدی په دغه ښار کې هـره ورځ تـرزرو تـنــو زیـات هندوان ځانونه جیل ته وړاندی کوی ، امنیـتـی قـواوی ځای پرځای شویدی دهندوانو تحریك ډیـر زورنـیـولـی پـه فـســاد غـوښـتـونـکـو کـی ښـځـی هم شاملی دي دهغه سیمی خلك وایی چی سوځیدلی لاش دیوه مـسـلـمـان دی اوکـلـه یی چی دبابری جومات دشهـیـد ولـو لـپـاره پـه زرګـونـو هـنـدوان دپرمختګ په حال کی لیدلی نوځان یی سوځولی دی خو ځیـنـی نورکسـان وایـی چی داهندوانووژلی دی پولیس پدی پـیـښـه کـی تـراوسـه چوپ دي اوهـلـتـه اوس سـخـتـی فـتـنـی راولاړی شوی دجمعی پـه ورځ دځو مـسـلـمـانـانـو کـورونـو اودوکـانـونـو تـه هم اوراچولی شویدی .

روسانو نورو هيوادوته دعسکرو ...

یقین سره به دامریکی کانګرس دپوځی مداخلی مخنیوی کړی ؤ .

روسیی سلا کار زیاته کړه : روسي ټولنه په اوسنی وخت کی دپوځی کړکیچونو څخه دومـره بـیـزاره شویـده چی کـه دخلکو عامه افکار وڅیړل شی نوشایـد نـیـم فـیـصـد خلك بـه دروسی عسکرو دلیږلو پلویان وی . روسـانـو پـه (۹) کـلـنـه جګړه کی پـه افغـانســتـان کی دکمونستی رژیم دپایښت لپاره نـه یـواځـی داچی (۱۵) زره عسکر له لاسه ورکړل بلکی دپوځی شخړو سره یی داسی حـــاسیت پیدا کړی دی چی پلرونه اومیندی حتی شوروی جمهوریتونو ته دخپلو عسکرو زامنو دلیږلو مخنیوی کوی .

تیر کال په روسی جمهوریت کـی ښـځـو دخـپـلـو جـلـب شووزامنو دلیږلو په خلاف چی داذربایجان دازادی غوښتونکو دپاڅون دراپرزولو لپاره لیږل کیدل احتجاج وکړ .

سترې انتظار او ...

ختیځو سیمو ته لیږل کیږی چی هلته قوماندانان دینی عالمان اوسپین ږیری په هرډول چی ددوی زړه وغواړی نمایندګان وټاکی اودنوروحوزو څارونکی هیئتونه به وروسته واستول شی ، مګر څرنګه چې مخکی وویل شو بیا هم دمخالفتونو سره مخامخ کیږی اوویل شویدی چی داطرحه به هم دعمل جامه وانه غوندی .

که چیری پدی حساس پړاو کی داپروسه نوره هم اوږده شی اولکه دپخوا په شان بی له کومی موافقی اونتیجی نهایی طرحه وړاندی شی پرته لدی چی دنجیب دکمونست رژیم په ټینګښت کی به مثبت اثر ولری بله ګټه تری وانخلو . زموږداعمل به هم له جهاد اوهم له ولس سره ستره جفا وی .

په کارده چی محترم مشران یوځل بیا دانتخاباتو په اوسنی طرحی نظرواچوی او دقوماندانانو دشورا دپریکړو اوطرحو په رڼاکی په لږه موده کی داسی یوه طرحه جوړه کړی چی ډیرو ته دمنلو وړوی بله داچی په طرحه کی دجزیی نیمګړتیاو په وجه له اختلافونو څخه تیر شی ځکه چی له یو خوا دکابل دګوډاګی رژیم مشر داسی هلی ځلی پیل کړیدی چی دجهادی تنظیمونو دمشرانو ، مهاجرینو اومجاهدینو ترمنځ تفرقه واچوی او لدی لاری خپل سیاسی موقف دروند کړی اوله بلی خوا دغه حقیقت زموږمسلمان او مجاهد ولس ته له زغم نه وتلی ښکاریږی چی زموږمشران کم ترکمه ددووکلونو په اوږدو کی حتی دانتخاباتو دپلی کولو لپاره په یوه واحده منل شوی طرحه نه شی سره جـــوړیـــــدی . والــــــســــــلام

ستري انتظار اوبي منزله ...

پدی غونډه کی داسلامی دولت رئیس محترم پروفیسورصبغت الله مجددی ، دموقت حکومت صدراعظم محترم استاد سیاف ،ددفاع وزیر محترم مولوی محمد نبی محمدی ، دښوونی اوروزنی وزیر اودانتخاباتودکمیسیون مرستیال داکتر فاروق اعظم ، محترم قاضی محمد امین وقاد ، نوراحمد تقدسی ، سید عبدالعظیم، دحزب اسلامی (حکمتیار) مرستیال مولوی عبدالوارث اونورو مخورواوپیژندل شوو شخصیتونو ګډون کړی ؤ .

په غونډه کی مشرانو په وارسره خبری وکړی اوداسی وښودل شوه چی لدی ډول انتخاباتو سره دجهادی تنظیمونو ټول مشران متفقه رایه لری بله امید واری داوه چی دهروینا وال له خوابه دنظار هیئتونه خپلو مکلفیتونو ته متوجه کیدل اوداسی وبریښیده چی په رښتیا سره به دایوه نهایی او منل شوی طرحه وی خو دیوی اونۍ په اوږدو کی څرګنده شوه چی نه یواځی دتنظیم په سطحه بلکی ډیرو جهادی څواکونو اونورو شخصیتونو دانتخاباتو په اوسنی طرحی انتقادونه وکړل اوهغه یی عملی ونه ګڼله .

لکه څنګه چی محترم مولوی محمد یونس خالص څرګنده کړه : دعبوری حکومت انتخاباتی طرحه متفقه طرحه نده اوټولو تنظیمونو نه ده منلی همدا وړخپلو مجاهدینو ته یی امر کړیدی چی ددی طرحی دعملی کیدو سره همکاری ونکړی .

برسیره پردی دحزب وحدت اسلامی مشرانو وویل چی داانتخابات نیمګړتیاوی لری اوله موږسره دعبوری حکومت له خوا وعده شوی وه چی (۱۱) نفری کمیسیون به دانتخاباتو په طرحی بیا غورکوی اووروسته له هغی به په کارلاس پوری کړو .اوهم نورو دنظرخاوندانو دطرحی ډول ډول نیمګړتیا وی په ډاګه کړی اودنه عملی کیدو غږ یی کړیدی .

خبره داده کله چی دافغانستان اسلامی موقت حکومت دیوی شورا له خوا جوړشو نوموړی شورافیصله کړی وه چی باید دشپږو میاشتو په اوږدوکی دانتخاباتو لپاره لاره اواره شی اوبیابه لدی لاری نه ددولت مشر ټاکل کیږی اوحکومت به منځ ته راځی اوحکومت به داخل ته انتقالیږی په هرصورت دځینو ستونزو دپیښیدو له مخی دشپږو میاشتو موده په یوه کال اوځو میاشتو بدله شوه ترڅودافغانستان داسلامی دولت قاضی القضات اودانتخاباتو دکمیسیون رئیس محترم پیر سید احمد ګیلانی پدی وتوانید چی د۱۳۶۹کال دجوزا په لومړی نیټه دیو مطبوعاتی کنفرانس په لړکی دانتخاباتو دعملی پړاو اعلان وکړی اوداسی څرګنده شوه چی په دوو میاشتو کی به تر یوه حده پوری کارپرمخ بوځی .

خو دانتخاباتو له طرحی سره دمخالفتونو په وجه دا کار وځنډید اودومره وځنډید چی له انتظار نه یی خلك ستړی شول اوداسی ګومان کیده چی ددی انتظار ثمره به ډیره خوږه اوټولو ته به دتائید وړوی .

پدی منځ کی داوومیاشتو له تیریدو وروسته په ناڅاپی توګه له نوی طرحی سره (۱۳۸) تنه څارونکی هیئتونه چی پخوا ټاکل شوی ؤ دلویی جرګی دانتخاباتو لپاره دهیواد جنوبی اوجنوب

(۷)مخ کی

دپولینډ په انتخاباتو کی لیخوا لینسا بری ترلاسه کړی دی

دنړیوالو خبری سر چینو له مخی ویل کیږی چی په تیرو څه دپاسه (۶۰) کلونو کی دپولینډ داولنیو ازادو انتخاباتو په لړ کی دکارګری اتحاد یی مشر.لیخوالینسا بری ترلاسه کړیدی .

دپولینډ تلویزیون چی دانتخاباتو یوه برخه اعلان کړیده څرګنده شوی چی والینسا (۷۵) فیصده رایی ګټلی اودده رقیب مهاجر تاجر ستانیسلا وتمنسکی (۲۵م) فیصده رایی ترلاسه کړیدی .

لیخوالینساپه انتخاباتو کی دبری په مناسبت په خپله ویناکی وویل چی پولینډ دډیموکراسی دیویل درس امتحان ورکړ اوزیاته یی کړه موږیو ځل بیا خپله ازادی ترلاسه کړه .

ستانیسلا وتمنسکی چی یو شتمن سړی دی وروسته له هغه په خلکو کی شهرت پیدا کړ چی ژمنه یی وکړه دپولینډ څخه به یوشتمن ملك جوړکړی خو والینسا اونورو هغه پدی بدنام کړ چی دی یو فرصت طلب سړی دی اودپخوانیو کمونستانو سره یی نږدی اړیکی درلودی .

برقراوقصبات افغانستان بمهای خوشه يي مي بارد

رژیم ملحد کابل در بمبارد مانهای قراوقصبات افغانستان از بمهای خوشه یی استفاده مینماید.

این مطلب را یك خبر نگار که درین او اخر از ولایت بلخ به پشاور برگشته است ابراز نموده است موصوف همچنان گفته است که میزان تلفات وخسارات و اخبار مربوط به اینگونه بمبارد مانهای به علتی دربیرون افغانستان انعکاس نمی کند که مناطق مذ کور در عمق کشور قرار دارند .

خبرنگار مذکور درارابطه‌به وضع غذایی اهالی گفته است که حاصلات زراعتی باشنده گان دوصد قریه در چار ولسوالی ولایت بلخ در اثر کم ابی متضرر شده عساکرو ملیشای رژیم کابل بامسدود نمودن را ههای مواصلاتی به مناطق مذکور از انتقال مواد خوراکه با نجاها جلوگیری بعمل می اورند.

مستوفیت ...

موقعیت دارد حمله نموده انرا متصرف شدند.

موصوف گفته است که مجاهدین درین حمله دوازده تن از افراد رژیم را به هلاکت رسانیده وتعدادی را به اسارت گرفتند .

موصوف علاوه نمود که کنترول ساحه مذ کور فعلاً نیز بدست مجاهدین انجا میباشد

دکابل دمزدور ...

نوی ډیلی : دباوری منابعو په حواله څرګنده شویده چی په تیرو څو ورځو کی د کابل د مزدور رژیم د یو شمیر لوړ رتبه مامورینو کورنۍ روسیی ته استول شویدی ددغو منابعو په قول له جینوا نه دنجیب دبیرته را ګرځیدوسره سم دغه کار ته اقدام شویدی

***

دهئيت تحرير ترنظر لاندي
مسوول مدير :شهرت «ننګيال»
مرستيال :سيدمحي الدين «هاشمي»
مکاتباتي پته :پوست بکس (۱۰۳۳)
يونيورستي ټاون پيښور
تيلفون ....(٤۱۷٤٦)...

مسکو ته دمرستی دوه سوه ټنه مواد ورسیدل

دتاس اژانس دمسکو دښاری شورا درئیس دمرستیال له قوله ویلی دی چی تراوسه پوری دوه سوه ټنه خوراکی اوطبی سامانونه دبین المللی مرستو په لړ کی مسکو ته رسیدلی دی

دمسکو دښاری شورا مرستیال څرګنده کړه چی پدغو موادو کی دماشومانو دضرورت وړڅیزونه ، وچی شیدی ، طبی سامان الات اونورخوراکی مواد شامل دی .

نوموړی زیاته کړه چی دکومکی موادو څلورجرمنی الوتکی دجمعی په مازدیګر په مسکو کی کوزی شوی اونوربین المللی مرستی لاروان دی .

هغه وویل کومو نهو سیمو چی مسکو ته یی شیدی لیږلی ناڅاپه یی شیدی بند کړی اواوس په دی ښارکی دیو لك ټنو شیدو کمبود راغلی دی دشوروی اقتصاد ی بحران په غټو ښارونو باندی اثر کړی اوسیاسی عواملو دغه مشکلات لاپسی زیات کړیدی

په روسیه کی

توربازارته وړل کیدل.

تاس دکی جی بی له قوله څرګنده کړیده چی یواځی له یوه فارم څخه هره ورځ پنځه ټنه غوښه درسمی لوړرتبه و مامورینو له خوا غلا کیدله اوکوم مواد چی دبهر نه راوړل کیدل هغه به ددوی له خوا په لیننګراد کی ذخیره شول.کی جي بی زیاته کړیده چی دوی داورګاډو دکوټو دکمښت اودترانسپورتی سیستم دنه انسجام له کبله ستونزو سره مخامخ ؤ.

نجیب به نفع ظاهرشاه از ...

ژنیوکه اخیراً صورت گرفت به همکاران محمد ظاهرتسلیم نموده است .

به نقل ازروزنامه (نیشن) درگزارش علاوه شده است که نجیب این موضوع رادرجلسه حزب کمونست خویش درکابل نیز مطرح نموده است .

براساس خبر مذکورشوروی نیزاز برکناری نجیب به نفع محمد ظاهر موافقت نموده است .

طبق یك خبر دیگر رادیو بی بی سی رئیس حکومت کابل حاضرگردیده است دردوران انتقال قدرت به یك حکومت منتخب درکابل بسیاری اختیارات وصلاحیت های خود را بیك شورای مستقل تفویض کنند که درطول دوره انتقال قدرت صلاحیت رهبری واداره کشورراخواهد داشت .

بگفته ناظرین این صلاحیت وسیعتروبیشتر ازان خواهد بود که قبلاً حکومت کابل حاضر گردیده بود تاازان بخش قدرت خویش صرف نظر نماید .

سخنگوی رئیس حکومت کابل درمصاحبه بارادیو بی بی سی حدود صلاحیت قابل انتقال راواضح نساخته افزود که این حدود ات درمذاکرات طرف های درگیر افغانی مساله تحت بحث گرفته خواهدشد.